محمد داؤد مومند
۲۰۲۰/۰۸/۳۱

# د پښتو بابا نغوره یا نصیحت:
# « سردار کیږه مه »

دا لیکنه د پیاوړی او غښتلی لیکوال داکتر رحمت زیرکیار ده، د داکتر زیرکیار د شخصیت په مورد کی ما ډیر کلونه پخوا د آئینه افغانستان په انقلابی مجله کی یو لیکنه کړی وه، زیرکیار په پښتنی انګړ کی یواځي یو ملی لیکوال او د ځانګړی سبک خاوند نه، بلکه د پوهی او معرفت په آسمان کی یو ځلانده ستوری هم دی.

زیرکیار د کابل، آلمان او د متحده ایالاتو په پوهنتونونو کی استاد پاتی شویدی، دا هغه ځانګړی امتیاز دی چی زموږ د هیواد ډیر داکتران او پوهاندان، په غربی نړی کی له هغی څخه محروم پاتی شوی دی.

داکتر زیرکیار دا لیکنه د « خلیل اولسی ادبی جرګی » د هغه سیمنار په اړوند لیکلی ده چی د پورتنی ادبی جرګی لخوا د پیښور په « پرس کلپ کی » د پښتو ژبی د بابا محمد ګل مومند په وياړ او افتخار، د هیواد د نامتو متبحر عالم پوهاند او استاد، صدیق الله رشتین په مشری او ریاست جوړه شوی وه.

داکتر زیرکیار خپله طلایی لیکنه داسی پیل کوی:

د جهاد د سیاسی خیرات په اوږدو کی چی له ډډی څخه یی « ستمی اسلام » راووت، د ټول افغان هویت د اسلام تاریات، خراسانیانو او ستمیانو په لاس او د پردیو لکه ایران په امر پرغمل شو، او د ټول هیواد د معنوی او مادی شتمنی د پاګلو قلندرانو په کند او کچکول کی ولویدی.

په داسی افغان دشمنه وضع کی، د « یو ژوندی مړی » یعنی محمد ګل مومند، یا په بل عبارت د « پښتو ژبی بابا » یادول په درانه توګه او دهغه د څو بعدی شخصیت لمانځل، د یوه داسی سپیڅلی بغاوت پیل دی چی د ټول افغانستان هر ډول میرڅمنان یعنی غلیمان او دښمنان په کنګل « یخچال- مومند » کی خولی « عرق- مومند » کوی.

د پاګلانو په کلتور کی د « ژوندیو مړو» ( مرده های که از نظر معنوی زنده اند – مومند ) درناوی کول او د هغوی ارشادات، نغوړې او نصایح، د ملت په شعور کی، خوندی کول، د هیواد د وطن پال منور قشر کلتوری، علمی او ملی وظیفه ده، په دی اړه او ارتباط د «خلیل اولسی ادبی جرګی » مشر، ملی متفکر ښاغلی همیش خلیل ته ښی چارې او مبارکباد وایم.

د لوی میرویس نیکه او ستر احمد شاه بابا په هکله د ښی او درنی وینا ویل، لیکل او درناوی، ګوندی یو څه آسان کار وبرییښی، خو د افغانی نړی او انګړ، دستر خیراند « محقق » ښوواند « رهنما » سمون وال او تکړه پوهیدونکي، مدبر واکیالي « سیاستمدار » او په دیری او جرګی کی د پوخ شوی ولسی شخصیت یعنی د مفکر محمد ګل مومند، نغوړی، نصایح او ارشادات، د جهاد د سایسی خیرات تحویلداران، ستمی دلالان او باداران ، بوګنولی او لیاره يي تری ورکه کړې ده.

د میرویس نیکه او ستر احمد شاه بابا په مشری په افغانستان کی د صفوی او مغلی اسلامی واکمنانو شیطانی دسیسی، استعماری یرغلونه او مظالم پای ته ورسیدل او پر ځای یی رشتینی افغانی اسلامی دولتونه ټینګ په پښو ودریدل چی د هیواد ملی برم او حیثیت اعاده شو، خو له بده مرغه د داسی سترو مشرانو او اتلانو څخه په پاتی نسلونو کی ددی تومنه پیدا نشوه چی په خپلو درباورنو کی د هیواد د لوی ټبر یعنی پښتنو سره انصاف و کړی، ددوی د بی مسئولیتیو او بی پروایی او ناپوهی له امله پښتو، بی درباره ملی ژبه پاتی شوه، او پخپله دوی هم لکه د مغلو پاچاهانو په شان په خپلی ژبی کی، بی ژبی، په خپل کلتور کی بی احساسه او پردی، خپل اولس ته پره او ملامت او بالاخره دومره خړ سترګی او ورک شول چی د سیالانو په مینځ کی سترګی نشی غړولی.

د پښتو بابا د ټول افغان ملت د ملت کیدنی په لور د اکثریت د کلتور د ساتلو او ملی کولو او د ملی هویت د اغیزمن کولو لپاره د پښتو سره پښتو کول حتمی ګڼل.

دی یو غیرتمن پښتون مسلمان وه، ده د چا نه ویره او ډار نه درلود او خپل اند یا تفکر یی د هیڅ چا څخه نه پټاوه.

د ستمی او پردو د پاره د جهاد د سیاسی خیرات په کلتور کی د ځینو افغانانو « ظاهر » او « باطن » ګډ وډ شوی دی او ډیر ځلی په معکوس ډول منعکس کیږي.

دغه ډول افغانان چی د سیاسی مجبوریتنو له امله د « افغانستانیانو » په ډول او ساز ګډیږی، د مفکر محمد ګل چغه په باطن کی اوری خو په ظاهر کی یی خپل غوړونه کانه اچولی دي.

په پیښور کی د سیمینار مشر، خپل تأثر او ګیله داسی څرګنده کړه:« څه مهال چی د خلیل ولسی ادبی جرګی تصمیم ونیو او د پښتو بابا په یاد او درناوی کی د یوه عظیم الشانه ادبی تقریب فیصله وکړه، د بری پختونخوا « افغانستان » ځینو ادیبانو، محض د سیاسی مصلحت پر بناء ( د اوه ګونو مزدورو سیاسی اسلامی ډلو، د داکتر زیرکیار په اصطلاح ملاتاریات، که معتدل وه لکه ملا نبی دبه.....، بی مشربه صبغت الله، بی پیره پیرنګی پیر ګیلانی او که افراطی وه لکه کلب الدین، بحران الدین، قصاب ملاخالص، وهابی سیاف د سعودی لاسپوڅی، د ملیت د تفکر سره بنیادی تضاد درلود- مومند ) د داسی ملی تاریخی سیمینار د جوړیدو سره حساسیت وښود.« د خدای لعنت دی په داسی بی ننګه او بی کلتوره، تش په نامه پښتنو شی.مومند »

د ملی مفکر محمد ګل له برکته پښتو په پښتو ټولنه کی چلن وموند، خو د « سردارانو» له برکته، دربار او دربار دولت، پښتو ژبه د دربار د دروازی نه بهر وویسته.

دربار، سردارانو او د دوی همزادانو د شلخیتوب لپاره نیولی وه او د پشتو بابا « محمد ګل » د پښتو سره پشتو کوله.

دغه واقعیت بابا ډیر کړاوه چی د پښتو سره په مؤسساتو « دربار ، دولت، مطبوعات، معارف، اواقتصاد » کی تبعیض خوندی شوی وو او ایران هم ددغه تبعیض په پالنه او حمایت کی اغیز من رول درلود او لری یی. د پښتو بابا خبری، پخی او تلل شوی وی.

هغه به، شلخیانو او په پښتو کی لټانو ته داسی نغوړه یا نصیحت کاوه:« سردار کیږه مه، د پښتو سره پښتو وکړه او د خپلی مورنی ژبی خدمتګار شه.»

د بابا په اند، پښتو ژبه د افغان ملت د اکثریت ژبی په توګه باید په دربار، دولت، مطبوعات، معارف او اقتصاد کی خپل مقام او منزلت تر لاسه کړی.

په دی ډول، مفکر محمد ګل، د « پښتو بابا » ډیر دروند او د مسئولیت څخه ډک خطاب وګاټه.

پښتو بابا که د خپل رسمي ماموریت په وخت کی په کندهار کی سنه ۱۳۱۱لمریز هجری کال « پښتو ادبی انجمن » جوړ کړ، چی وروسته په ۱۳۱۶کابل کی په « پښتو ټولنی» واوښت او د « طلوع افغان » اخبار چی د استاد حبیبی لخوا په دری ژبه نشریده په پښتو ژبه واړوله، نو په سمنګان او زاړه بغلان کی یی هم جوماتونه جوړ کړل، بابا په زرګونو پاردریایی مهاجرینو کورنیو ته د اسلامی، افغانی او بشری تفکر له مخی، په ډیر اخلاص ښه راغلاست ووایه او هغوی ته یی په شمالی صفحاتو کی د هوسا ژوند او سکونت زمینه برابره کړه.

د مزار شریف، بلخ او ایبک د ښارونو نقشی د ده په وخت کی جوړی شوی، سرکونه یی جوړ کړل ، د صنعت، کرهنی او تجارت د پرمختګ لپاره یی عملی ګامونه پورته کړل.

بابا د قرقل د پټوکو تجارت د یهودانو د انحصار څخه وویست « یهودانو ډیر کوچنی اقلیت په افغانستان کی، ستر اقتصادی قدرت درلود، یهودانو او د هیواد یهود مشرانو او ستمی قوتونو، د پښتو د بابا پر وړاندی کلک منفی تبلیغات شروع کړل.مومند» او دولتی شاړی زمکی یی هم په ناقلینو او هم په پار دریایی مهاجرینو وویشلی او په زرګونو هکتاره زمکی د زراعت او کرنی وړ وګرزیدی.

د ټول افغانستان ملیګرایان که عملاً د ملی هویت د ټینګولو په مورچل کی ځای ونه نیسی او همدا راز، د جرګی، مرکی، ملی شعایرو او واقعی لویی جرګی څخه د ملی حاکمیت د پلی کولو دپاره د ملی پرنسیپ په توګه کار وانخلی او د ملی لرغونو دودونو لکه ملی اتڼ، ملی توغ او بیرق، د بیرق په رنګونو ملی جامو او داسی نورو، د ترویج نه ځان بی خبره وساتی نو د هغوی ملیګرایی به بی خونده، ډنګره او بی سمبوله وی.

د پښتو بابا د یوه ملی مفکر په توګه داسی ټولو د ملی ژوند ستنو او ارکانو ته د ملت جوړونکی عناصرو په توګه کتل او هغه یی «ملت ولی» یعنی« نیشنلیزم » ګڼله.

وزیر بابا چی اصلاً کوچی وه، د وزارت د مقام د استعفی نه وروسته خپل کوچیاني ژوند ته دوام ورکړ، کله به په سمنګانو کی وه، کله په کابل کی، کله په کونړ کی او کله به په خپل اصلی کلی، ګولایی کی اوسیده او په دی ډول یی د ملت او ولس د ځانګړو پرګنو سره خپل تعلقات ساتل.

لوی استاد پوهاند رشتین لیکی چی: د بابا د وفات نه دری ورځی د مخه د ده لیدو دپاره ورغلم، په دغه ورځ سره له دی چی لړ زهیر او رنځور ښکاریده، خو د لغاتو په څیړنه او تحقیق لګیا وه، قلم یی راخستی وه او نوی لغات یی لیکل، دا د محمد ګل بابا د پښتو ژبی سره مینه او عشق وه چی د ژوند تر آخری سلګیو ورسره ملګری وه.

یو ځل د افغانستان پادشاه اعلیحضرت محمد ظاهر شاه په هغه مهال چی بابا متقاعد شوی وه او په بلخ کی یی ژوند کاوه، د محمد ګل مومند د لیدو دپاره د هغه کور ته ورغی، پادشاه په دری ژبه او د پښتو بابا ورسره به پښتو ژبه خبری کولی،

دخبرو به ترخ کی اعلحضرت وویل:« وزیر صاحب! من پشتو میفهمم ولی ګپ زده نمیتوانم.» د پښتو بابا هم ځواب ورکړ چی زه هم په دری پوهیږم خو خبری پری نشم کولالی. منظور دا چی د پښتو بابا په خپله عقیده کی د هیواد د پادشاه پروا هم نه درلوده.

د پښتو بابا چی په ۱۸۸۴میلادی کال د کابل د اندرابی کوڅه کی زیږدلی وه په کال ۱۹۶۴میلادی د کابل د دهمزنګ په غره باندی، یوه دوه اطاقه ختین کرایی کور کی وفات شو. دا هغه افتخار دی چی په هیواد کی د هیڅ دولتدار شخصیت به برخه شوی ندی.

د مشرقی ولایت یو معروف شخصیت سناتور غلام نبی خان چکنوری د وزیر بابا په سمینار کی وویل:« محمد گل خان مومند په وزارت کی فقیر او په فقیری کی امیر وه.»

پښتو بابا محمد گل مومند ځان له یو شخص نه وه، بلکه هغه د یوی مؤسسی حیثیت درلود، او مؤسسه په آسانی سره له مینځه نه ځی.

بی ننگه، شلخی پښتنو او محمدزی سردارانو ته وینا:

دری ژبه زده کول که لوی کمال دی

پښتو ژبه هیرول بی کمالی ده

په درناوی



[که چیری غواری د همدغه لیکوال نور مطالب ولولی، دلته کلیک وکری.]

[هرگاه متمایل باشید که مطالب دیگری از این نویسنده را مطالعه کنید، اینجا کلیک نمائید.]